# د هغو ماشومانو لپاره د انتظار د مودې په اړه معلومات، چې د پناه غوښتنه یې کړې ده او په ناروې کې له مور او پلار پرته ژوند کوي

## اوسمهال کوم کسان د کډوالو د چارو د ادارې لخوا مرکې ته بلل کېږي او ځواب ترلاسه کوي؟

### سوریه

د کډوالو د چارې ادارې (UDI) د سوریې د اتباعو او د سوریې د بې تابعیته اتباعو د پناه غوښتنې د غوښتنلیکونو ارزونه تر نامعلومه مودې پورې ځنډولې ده. ګڼ شمیر نور اروپایي هېوادونه هم ورته کار کوي.

د سوریې وضعیت لا هم نامعلوم دی، خو د کډوالو د چارو اداره وضعیت له نږدې څاري. کله چې د پناه غوښتنې د غوښتنلیکونو ارزونه بیا پیل شي، تاسو ته به په دې هکله لا زیات معلومات درکړل شي.

ټول پناه غوښتونکي به د خپلو غوښتنلیکونو ځواب ترلاسه کړي.

## لاندې معلومات پرته له سوریې د نورو ټولو هېوادونو لپاره د اعتبار وړ دي:

د جون تر میاشتې پورې به موږ:

- د هغو کسانو د پناه غوښتنې د غوښتنلیکونو ارزونې ته دوام ورکړو چې د پناه غوښتنې مرکه (انټروي) یې په ۲۰۲۴کال کې ترسره شوې ده، خو لا تر اوسه یې ځواب نه دی ترلاسه کړی.
- په پرله پسې توګه له هغو زیر سن ماشومانو سره مرکې وکړو چې له مور او پلار پرته راغلي او د پناه غوښتنه کوي.که چیرې قضیه د دوبلین د تړون له مقرراتو سره تړاو ولري، کیدای شي څو میاشتې وخت ونیسي تر څو قضیه د مرکې (انټروي) لپاره چمتو شي.
- که له مرکې وروسته نورو پلټنو ته اړتیا نه وي، نو ژر تر ژره به د قضیې په هکله پرېکړه وکړو.

## ولې ځینې کسان له ما څخه مخکې ځواب ترلاسه کوي؟

لومړی هغو کسانو ته ځواب ورکول کېږي چې دیر وخت یې انتظار کړی وي. د ځینو کسانو قضیې او له هغوی سره مرکه ترسره کول زیات وخت نیسي. که چیری تاسو باید د نورو کسانو په پرتله زیات وخت انتظار وکړئ، دا په دې معنی نه ده چې موږ ستاسو قضیه هیره کړې ده. لاندې ځینې لاملونه دي چې ولې د ځینو قضیو څېړل زیات وخت نیسي:

- که له مرکې وروسته ستاسو د قضیې په تړاو لا زیاتو څېړنو ته اړتیا وي، کیدای شي ځواب په ځنډ ترلاسه کړئ.
- که د کډوالو د چارو اداره (UDI) د دې ارزونه کوي چې ستاسو قضیه دې د دوبلین تړون په یو بل غړي هېواد کې وڅېړل شي، نو دا کار وخت ونیسي. په دې حالت کې ښایي تاسو د نورو په پرتله د مرکې لپاره زیات وخت انتظار وباسئ.

که چیري له تاسو سره د نورو دلایلو له کبله مرکه نه وي شوي یا مو ځواب نه وي ترلاسه کړی، وکیل ته به مو د ځنډ په هکله خبر ورکړل شي.

مونږ پوهېږو چې د اوږدې مودې انتظار کول ستونزمن دي؛ نو له همدې امله زیار باسو چې د پناه غوښتنې ټول غوښتنلیکونه ژر تر ژره وڅېړو.

تاسو اړتیا نلرئ چې د کډوالو د چارو له ادارې سره په دې هکله اړیکه ونیسئ چې قضیه مو څېړل شوې ده او که نه. مونږ ځواب ستاسو وکیل ته استوو.

## ایا زه داسې څه کولای شم چې د انتظار موده مې لنډه شي؟

تاسو کولای شئ د خپل هویت اسناد ژر تر ژره مونږ ته راوسپارئ.

- که د هویت اصلي اسناد ولرئ، باید د خپلې سیمې پولیسو ته یې وسپارئ. د اسنادو په سپارلو کې له خپل سرپرست څخه د مرستې غوښتنه کولای شئ.
- که د اسنادو فوتوکاپي یا عکسونه لرئ، مرکې ته یې له ځانه سره راوړئ او یا یې د کډوالو د چارو ادارې (UDI) ته په لاندې پته واستوئ:
  Utlendingsdirektoratet (UDI), Postboks 2098 Vika, 0125 Oslo
  په اسنادو کې د دوف (DUF) شمېرې لیکل مه هیروئ. ستاسو سرپرست به په دې هکله له تاسو سره مرسته وکړي.

## د معلوماتو تازه کول

د انتظار د مودې په اړه معلومات د ۲۰۲۵ کال د اپریل د میاشتې له لومړۍ (۱) نېټې څخه اعتبار لري.

یاد معلومات به د ۲۰۲۵ کال د جون په لومړۍ (۱) نېټه او یا هغه مهال تازه شي چې د پام وړ بدلونونه پکې راشي.